# "کاڼو کښې رګونه" يوه تنقيدي څېړنه

## Critical Analysis of the Pashto Novel "*Kanroo Ke Ragoona*"

**Dr. Javed Iqbal Iqbal***

**Abstract:** In the wake of the unprecedented war and conflcits on Pashtun territoery has shaped peculiar literary generes. in this scenario, Pashto novel has evolved with interesting patterns. In this paper the author has strived to uncover some of interesting dimensions of the novelt written by one of the most established fiction writer in Pashto. The scholar has argued that this is basically a Novelt while the writer of the Novel and prologue describe it as Novel. The characters plot and over all knetting of the story are dealt with a critical evaluation of the novelt.

"کاڼو کښې رګونه" د نوميالي اديب، افسانه نګار، سفرنامه ليکونکي او ناول نګار ښاغلي طاهر اپريدي ورومبى ناول دى چې په جنوري کال 2000ء کښې د جرس پښتو ادبي جرګې کراچۍ له خوا چاپ شوى دى، په کال 2004ء کښې د دې ناول ترجمه پروفيسر اسير منګل د "*کہساروں کے یہ لوگ*" په نوم په اردو کښې وکړه چې د شهرزار ادارې په کتابي شکل خوره کړه. په پښتو کښې دا ناول په 203 صفحو مشتمل دى چې د مصنف د لنډو خبرو نه علاوه پرې ښاغلي حنيف خليل تفصيلي سريزه ليکلې ده او نامور دانشور او محقق ښاغلي همېش خليل د فليپ په شکل خپله رائې ورکړې ده، په اردو کښې د دې ناول سره د اردو مترجم پروفيسر اسير منګل او د شهرزاد ادارې نګران ښاغلي اصف فرخي خپلې تنقيدي رائې شاملې کړې دي، مخکښې د دې نه چې د دې ناول يوه تحقيقي او تنقيدي جائزه پېښ کړى شي، د طاهر اپريدي د مجموعي ادبي رجحان او د پښتو په افسانوي ادب او تخليقي نثر کښې د هغۀ د معيار او مزاج په حقله څو لنډې تعارفي خبرې هم ضروري ګڼم.

* Dr. Javed Iqbal Iqbal, Lecturer Department of Pashto, Baluchistan University, Quetta.

طاهر افریدی د پښتو د روان عصر په پښتو ادب کښې په هغه مقام ولاړ دی چې د کوم تعارف او پېژندګلو محتاج نهٔ دی البته دا وضاحت ضروري ګڼم چې د پښتو ژبې او ادب په خور او پراخ میدان کښې طاهر صاحب د تخلیقي نثري ادب یو لوی او څرګند نوم دی، هغه تر دې وخته د شاعرۍ نه علاوه رپورتاژ باندې طبع ازمایلې ده، سفرنامې یې لیکلې دي، افسانه یې د لیک خصوصي میدان دی او د څنو نورو متفرقو نثري لیکونو سره سره یې د ناول په میدان کښې هم ښهٔ بااثره قدم ایښی دی چې د هغهٔ د ناول کاڼو کښې رګونه په شکل زمونږ مخې ته دی.

د طاهر افریدي د "کاڼو کښې رګونه" ناول ذکر د ټولو نه مخکښې ډاکټر حنیف خلیل په خپل کتاب پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جائزه کښې په هغه وخت کړی ؤ چې لادا ناول چاپ نهٔ ؤ. د حنیف خلیل د بیان نه دا انکشاف هم کیږي چې د چاپ نه مخکښې د دې ناول نوم "کاڼي کاڼي ژبې" ؤ خو دا وروستو په کاڼو کښې رګونه بدل شو. د طاهر صاحب د دوو نورو ناچاپ ناولونو سره سره د دې ناول ذکر هم حنیف خلیل په پښتو کښې د ناچاپ ناولونو په ضمن کښې کړی دی او لیکلي یې دي چې:

"د کاڼي کاڼي ژبې په نوم یو ناول د پښتو نومیالي افسانه نګار طاهر اپریدي لیکلی دی چې د قبایلو د رسمونو، جرګو، دښمنو، رشتو او ژوند ژواك احاطه کوي. دا ناول د طاهر اپریدلي وړومبی ناول دی چې د فني معیار اندازه به یې د چاپ نه پس کیږي. دې نه علاوه دوه نور ناولونه هم طاهر صاحب لیکلي دي خو د هغې نومونه یې لا نهٔ دي ایښي. دغو کښې یو ناول د تاریخي قسم دی چې د برصغیر د تقسیم په پس منظر او پاکستاني حالت لیکلی شوی دی"(1).

د طاهر صاحب د دغو دریو ناولونو ذکر حنیف خلیل د "کاڼو کښې رګونه" په سریزه کښې هم کړی دی، په دغه موقعه هغهٔ لیکلي دي چې:

"طاهر اپریدی د خپل ادبي سفر دوران کښې د فکشن په میدان کښې د افساني په لور کافي توجه کولو سره سره درې ناولونه هم لیکلي دي خو په کتابي شکل کښې چاپ کړي نهٔ دي. دغو نالونو کښې یو د هندوستان د تقسیم، پاکستان قیام، او برصغیر د سیاسي او سماجي

غورزو پرڅو په حوله لیکلی شوی دی، دویم د دوی بهرنو ملکونو ته د سفرونو په مشاهداتو اړانه لري او دریم ناول "کاڼو کښې رګونه" یې ستاسو په لاس کښې دی"(2).

حنیف خلیل چې د طاهر اپریدي د کومو دوو ناچاپه ناولونو ذکر کړی دی، د طاهر اپریدي د وینا مطابق هغه مسودې د هغۀ په دفتر بولټین مارکېټ کراچۍ کښې پرتې وې. په کال 1998ء کښې په ذکر شوي مارکېټ کښې د اوور لګېدو له وجې د جرس مجلې مکمل ریکارډ او دغه دواړه مسودې ضائع شوې. البته د هغۀ دوه نور ناولونه "تیری آنکھین خوبصورت هین" (اردو) او تربوزك (پښتو) په ترتیب سره کال 2006ء او 2011ء کښې جرس ادبي جرګه کراچي له خوا کاڼو کښې رګونه باندې تراوسه پورې چې څومره هم تنقیدي لیکونه مخې ته راغلي دي په دغو ټولو لیکونو کښې دغه د یو ناول په حېث یاد کړی شوی دی، د هر افسانوي صنف خپلې خپلې فني او هیئتي غوښتې وي او د هغې په بنیاد یې فرق او امتیاز کولی شي، شاید دغه وجه ده چې د دغه فنپارې لیکوال ښاغلی طاهر اپریدی په خپله هم د دغه افسانوي صنف د تعین په حقله د تذبذب ښکار دی.

دا خبره مې ځکه وکړه چې یو خوا خو طاهر صاحب کاڼو کښې رګونه د ناول په حېث ادبي دنیا ته وړاندې کړی دی او بل خوا د "خپلې خبرې" تر عنوان لاندې د خپل ناول په حقله لیکي چې:

"کاڼو کښې رګونه ناول دی او که نا؟ ناول دی او که طویله مختصره افسانه دا څۀ رنګه سوالونه دي چې د دې کتاب په لوستو به لوستونکي ذهن کښې را ولاړې هم دغه سوالونه زما ذهن کښې هم را اوچت شوي دي، خو زما خیال دي چې زۀ د دې سوالونو د جوابونو خپل ځان پابنده ګڼم"(3).

کاڼو کښې رګونه نۀ خو ناول دی او نۀ طویله مختصره افسانه، ناول او افسانه خپل خصوصیات لري چې کاڼو کښې رګونه کښې په نظر نۀ راځي، اصل کښې دا یو ناولټ دی، د فېکشن عالمانو چې د ناولټ دپاره کوم خصوصیات ټاکلي دي کاڼو کښې رګونه په هغې پوره خېژي،

زۀ د خپلې رائې په تائید کښې د ډاکټر سلیم اختر د کتاب نه یو اقتباس وړاندې کوم چې په کښې د ناول او ناولټ امتیاز په ګوته کړی شوی دی، ډاکټر سلیم اختر لیکي:

"ناول کی وسعت ہر طرح کی تفصیلات چاہتی ہے او اچھا ناول نگار ان سے خاطر خواہ کام لیتے ہوئے فنی بصیرت کا ثبوت دیتا ہے، ماحول کی مکمل تصویر کشی، کرداروں کی نفسیاتی اٹھان طویل مکالمے بلکہ حسبِ ماحول موقع تقریریں تک یہ سب کچھ ناول میں سما سکتے ہیں... مگر ناولٹ نگار کو اتنی آزادی نہیں وہ بھی افسانہ نگار کی مانند کفایت سے کام لینے پر مجبور ہے اسلئے اس کا فن تفصیلات نہیں بلکہ جزئیات نگاری چاہتا ہے، جزئیات کا فن اس بنا پر مشکل ہے کہ یہ ژرف نگاہی کا طالب ہی نہیں بلکہ فنی ریاضت بھی چاہتا ہے اس کے ساتھ ساتھ اشاراتی انداز بیان بھی کفایت الفاظ کا بہت بڑا ذریعہ ثابت ہو سکتا ہے، ایک بلیغ استعارہ ایک پیراگراف کی بچت کر سکتا ہے، اسطرح جزئیات کے باموقع بیان سے تفصیلات کی ضرورت نہیں رہتی"(4).

ډاکټر سلیم اختر چې د ناولټ په حقله د جزئیات نګارۍ، کفایتي انداز او ایمائیت کومه خبره کړې ده دغه فني حربه طاهر افریدي نۀ یوازې په خپل ناولټ کښې په کار راوستې ده بلکې په خپلو خبرو کښې ئې هم په غیر شعوري توګه د دې وضاحت کړی دی، د ډاکټر سلیم اختر د پورتني اقتباس وضاحت او تشریح دپاره زۀ د طاهر صاحب حواله وړاندې کوم او زما په خیال د دغو حوالو پېش کولو نه پس به لوستونکي ما د "کاڼو کښې رګونه" ته ناولټ وئیلو په حقله حق بجانب وګڼي. حواله دا ده:

"کاڼو کښې رګونه لوستو نه پس به تاسو محسوس کړې وي چې ما د قبائیلي روایتي معاشرې څۀ تصویرونه اخستي دي خو زۀ په خپله اعتراف کوم چې ما د دغې عزئیزې، روایتي او د رسمونو پابندي معارې پوره او په مکمله توګه عکاسي نۀ ده کړې، مثلاً د حجرې خبرې او ګپونه، د کورني ژوند ذکر، د ښځو او زلمو د جذباتو، خیالاتو ښکارونه، د نارینوو او زنانوو روزمره مصروفیات او دغه شان د مرګ ښادۍ، اخلاقي، رسمي او روایتي فرائضو ښودنې سره نور تفصیلات ما نۀ دي لیکلي چرته چرته چې ډېرې خبرې په کار وې یا چرته چې منظر کشي ښۀ ډېره په کار وه ما د هغې په مکمل ډول ښکارونه نۀ ده کړې حالانکې په

ناول کښې په منظر کشۍ پوره پوره بابونه لیکل شوي دي او پرې لیکل کېدی هم شي، ما ته دې ناول لیکلو په وخت بیړه نۀ ؤ کول په کار"(5).

اوس راځو خپلې موضوع طرف ته د دې ناولټ د اهمیت په ګوته کولو او ادبي مقام ټاکلو په وخت مونږ د دوو بنیادي زاویو د "کاڼو کښې رګونه" تحقیق او تنقیدي جائزه اخستی شو چې په دې ډول ده:

1- د موضوع او ماهیت له زاوئې نه.

2- د فني جوړښت او هیئت له زاوئې نه.

تر څو چې د دې ناولټ د موضوع او ماهئیت تعلق دی نو په بنیادي توګه دا ناول د پښتنو د قبایلي ژوند د کړۀ وړۀ احاطه کوي او مرکزي تهیم ئې دا دی چې د پښتون اول په قبایلي ژوند کښې د ځینو بنیادي خوبیو، رسمونو، رواجونو او مثبت روئیو سره سره د روشن فکرۍ او تعلیمي رجحان کمی هم شته چې ډېرو منفي روئیو ته یې وجود ورکړی دی، ناولټ نګار په دغه ناولټ کښې د قبایلي ژوند دغه جهالت او تاریکۍ ختمولو دپاره د ناولټ په ژبه ځینې اصلاحي او تعمیري تجویزونه پېښ کړي دي او د ناولټ په مرکزي خیال کښې یې د تعلیم او روشن خیالۍ پېغام په جهالت، دښمنۍ، نفرت او بې تعلیمۍ غالب ښودلی دی او دغسې د قبائیلي ژوند د علامتي اظهار په ذریعه ئې ټول پښتون اولس او بیا په مجموعي توګه ټول انسانیت ته یې د خېر، ښېګړې، مینې، امن، ورورولۍ او روشن خیالۍ سبق ورکړی دی چې په بنیادي توګه د یو خوشحاله او سوکاله معاشرې تشکیل کوي، حنیف خلیل د ناولټ بنیادي موضوع د ناول په سریزه کښې داسې بیان کړې ده:

"د دې ناول د تهیم بنیادي نکته د قبائیلي ژوند، زاړۀ روایات، ذاتي انا، جهالت، ضد، کینه او د هغې نقصانونه او بیا د جدید تعلیم، نوي فکر، ترقۍ او انساني بقا ګټې او وقار هم څرګندوي، دې ناول کښې د بې ایمانه او خود غرضه قبائیلي ملکانو د کردار نه هم پرده اوچته کړی شوې ده او معاشره کښې د بدو خورنکو انجام هم ښودلی شوی دی او د خیر او نېکۍ اصلي مسرت او خوارۀ هم بیان شوي دي"(6).

د دې ناولټ په فني توکو کښې د طاهر صاحب په کردار نګارۍ خو به وروسته خبرې کولی شي خو دلته د هغهٔ د کردار نګارۍ ذکر ځکه راغلو چې د ناول سریزه نګار حنیف خلیل، مترجم اسیر منګل او د اردو نامور نقاد آصف فرخي دري واړو په خپلو تنقیدي رایو کښې د ناول بنیادي موضوع او مرکزي خیال د ناول د مختلفو کردارونو په ذریعه څرګند کړی دی، حنیف خلیل د دې ناول کردارونه، د دریو نمائنده نسلونو ترجمان یادوي او د دغو کردارونو په ذریعه د ناول تهیم داسې واضح کوي:

"ناول کښې کردارونه په دې وجه زیات راغلي دي چې د دریو نسلونو د مختلفو واقعاتو تسلسل په کښې راوړاندې کړی شوی دی، وړومبی د ملك حنان، ملك تراب ګل او حضرت خان ملك روایتي قبائیلي کړهٔ وړهٔ بیان شوي دي، بیا د دوی د ورپسې نسل یعني بچو ملك شهباز نه علاوه نادر خان او نامکۍ (څوك چې د ناول هیرو او هیروئن دي) د مینې داستان او ورسره قبائیلي خنډونه او روایات او د څنو نورو کردارونو کړهٔ وړهٔ بیان شوي دي او بیا د دریم نسل یعني د دوی د بچو ناصر او ملالې د مینې داستان متحرك ساتلی شوی دی. دې نه علاوه ناول کښې ځینې منفي کردارونه لکه مصري خان، ملك ياربان، صوبیدار، غلامی او شاه وزیر هم متحرك ساتلی شوي دي، ځینې ضمني کردارونه، ګل مست، د ګل مست مور، کرامت، علي شیر، احمد شیر وغیره هم ښهٔ په توازن سره را وړاندې شوي دي او هرکله چې ناول کښې کردارونه زیات او دریو نسلونو نمائنده دي نو د ناول د ساخت فطري تقاضا ده چې واقعات به هم په کښې زیات وي د کومو د تنظیم نه چې د ناول پلاټ رغولی شي. دې ناول کښې د کردارونو او واقعاتو د زیاتوالي باوجود نهٔ خو ناول نګار نه د کوم کردار د متحرك ساتلو توازن خراب شوی دی او نهٔ ترې پلاټ سست پاتې شوی دی"(**7**).

پروفیسر اسیر منګل د دې ناول د موضوع، رومانوي فضا او بیا د بنیادي تهیم او مقصد څرګندونه د خپلې قبیلې منګلو قبائیلي ژوند سره مشابه کوي او د ناول د تهیم څرګندونه داسې کوي:

"میں نے اس ناول کا مطالعہ شروع کیا تو مجھے بعینہ اس میں منگل قبیلے کے طور اطوار نظر آئے، یہاں میں یہ وضاحت کرتا چلوں کہ منگل قبیلے کا شمار افریدیوں کے کرلانڑی پختونوں میں کیا جاتا ہے، اسلئے ان کے زیادہ تر اخلاق، عادات ورسومات افریدیوں جیسے ہیں، اوریہی وہ بنیادی وجہ ہے کہ اس ناول کا کوئی واقعہ یا کردار میرے لئے اجنبی نہیں کسی ایک کردار میں مجھے اگر اپنا چچا نظر آتا ہے. تو دوسری میں اپنے ماموں کا چہرہ دکھائی دیتا ہے".(8)

د دغو حوالو نه یو خوا خو د ناولټ د تهیم بنیادي موضوع او پیغام وضاحت وشو او بل خوا ورسره د ناولټ په کردارونو هم تبصره وشوه البته دلته د ناولټ نګار د کردار نګارۍ په حواله د حنیف خلیل د یو اعتراض تذکره ضروري ده چې اختلاف ورسره کېدای شي.

حنیف خلیل د ناول تر ځنو کردارونو د تبصرو په وخت د ناولټ د دې ضمني کردارونو شاه وزیر، صوبیدار او غلامي په حقله وایي چې په غیر فطري فضا کښې د کردارونو خاتمه شوې ده، هغه لیکي:

"د شاه وزیر غلامي او صوبیدار کردارونه چې د مرګ په شکل د ناول پردې نه اخوا کولی نو فضا ورته سمه نهٔ شي جوړولی، لږ شان په غیر منطقي شکل او تلوار سره دغه کردارونه یو خوا ته کړی شي ګویا دلته د ناول نګار کرداري ګرفت تر څهٔ حده کمزوری ښکاري"(9).

خو کله چې مونږ د ناولټ مطالعه کوو او د ناول کردارونو ته په تنقیدي نظر ګورو نو د دغو کردارونو خاتمه په غیر فطري نهٔ ښکاري بلکې د واقعاتو او پلاټ د غوښتنې مطابق ښکاري، ځکه چې دغه درې واړه کردارونه د ناولټ تر اخیره په راؤنډ یعني متحرك شکل کښې روان وي، د ناولټ د مطالعې نه پس څرګندیږي چې ټول ناولټ په څلور دېرش پړکونو (منظرونو) مشتمل دی او دغه درې کردارونه د ناولټ په دېرشم پړك کښې د مرګ په شکل د ناولټ د پردې نه جدا کړی شي، د دغو کردارونو د ختمولو منظر ناول نګار داسې بیان کړی دی.

"شاه وزیر رو غوندې اووې .... غلامي څهٔ او نهٔ وئیل او د ځایه پاڅېدو ... شاه وزیر هم ورپسې اوچت روان شو او د سړك بلې غاړې ته په

ټيټه ملا پورې وتل خو لاځهٔ ډېر تنګ يې نهٔ ؤ کړی او لاد سرکار د بريده نهٔ ؤ اوړېدلی چې د يو لوري نه پرې غږ وشو.
ودرېږئ، وه نهٔ خوځېږئ ګنې نو لاړئ.
خو هغوئ د اورېدو په ځای يو ورکوټي غونډې ګړ ته ځانونه وغورځول او برغې ډزې يې وکړې، او په جواب کښې په هغوئ د مخ او شا د اړه ګډې ډزې وشوې.
شاه وزير اشنا! مصري خان سره خو زما ساه يوه شوه، زهٔ خو در نه لاړم.
غلامي شاه وزير ته اووې خو شاه وزير څهٔ جواب ور نهٔ کړو، او چې غلامي په اخيري ځل سترګې د شاه وزير په لور واړولې نو د هغهٔ خولهٔ وختي د خاورو ډکه شوې وه.
پوليس د هغوئ مړی ځان سره يوړل او د خپلو افسرانو د مخې ئې د خطرناکو مفرورانو په مرګ د بهادرۍ او جرات تمغې په سينو زوړند کړې"(10).
زهٔ د خپلې رائې په مرسته کښې د پروفېسر اسير منګل رائې هم وړاندې کول ضروري ګڼم په کومه کښې چې هغهٔ د حنيف خليل د دغه اعتراض ذکر کړی دی او بيا يې د دغه اعتراض ترديد کړی دی. پروفېسر اسير منګل دې لړ کښې ليکي:

"میرے خیال میں یہ تینوں ضمنی کردار ہیں، اور ان کو جس طریقے سے برتا گیا ہے وہ بالکل ناول کي تیکنک کے عین مطابق ہیں جب کہ ان کو منظر سے عجلت اور غیر منطقی انداز سے نہیں ہٹایا گیا، اگر ان کرداروں کو ذرا بھی مزید رکھا جاتا تو پھر کہانی بے اثر ہو کر رہ جاتی، لہٰذا ناول نگار نے نہایت مناسب طریقے سے ان کرداروں کو غائب کر کے پلاٹ کو مؤثر طریقے سے آگے بڑھایا ہے"(11).

دغه ناول ځينې خامياني هم لري چې دلته ئې ذکر کول ضروري ګڼم مثلاً ناول نګار يو ځای د وړومبي نسل دوه کردارونه ملك حنان او تراب ګل چې وړومبی خپلو کښې ملګري وو او د خپلې خپلې قبيلې ملکان هم وو په حقله ليکي:
"بل ته تکليف اذيت ورکولو کښې به ملك حنان يو شان تسکين موندلو هم دغه حال د تراب ګل هم ؤ، شايد په دواړو باندې د پلارانو د

وخت د هغې محرومۍ او احساس عذاب ؤ په کوم کښې چې دوئ په ماشومتوب کښې را ګير ؤ.

اذيت پرستي يوه نفسياتي اصطلاح ده چې عوامل ئې ډېر زيات کېداى شي خو ناولټ نګار چې د دغو دواړو کردارونو د محرومۍ کوم محرك ښودلى دى هغه درست نۀ دى ځکه چې دغه دواړه کردارونه په ماشومتوب کښې د محرومۍ ښکار نۀ ؤ بلکې د دواړو کردارونو پلارونو هم د خپلې خپلې قبيلې ملکان وو. ملکان د محرومۍ ښکار نۀ وي بلکې د غريبې او پرېوتې طبقې استحصال کوي او د خپل حق نه يې تل د محرومه ساتلو هڅې کوي. (داذيت پرستي لامل يواځې د ماشومتوب محروميانې نه وي، بلکه ددې تر شا ددغو کردارونو هغه احساس ملکيت هم کېدې شي چې په ارتقايي توګه ورته له پلرونو په وراثت کښې پاتې شوي دي.... ذما خو دا نظر دى ......بر کت شاه کاکړ)

دې نه علاوه په ناولټ کښې يو خوا خو په تکرار سره د دوئم نسل نه وړاندې دورونه د جهالت او تاريك دور په نوم ياد شوي دي او بل خوا د دوئم نسل مرکزي کردار نادر خان چې هغه وخت ماشوم ؤ د خولې نه دا خبرې ډېرې غير فطري او مصنوعي معلومېږي ځکه چې په ناول کښې چرته هم د دې ذکر نۀ دى شوى چې ملك حنان او تراب ګل نه وړاندې دور د انصاف په حواله يو مثالي دور او مکالمه دا ده:

"موږ په ما خو دغه اوسنۍ جرګې ښې نۀ لګي دا خو صفا د پيسو خبرې دي پته نشته هغه پخواني خلق څومره سپين زږي وو او څومره د انصاف فيصلې به يې کولې اوس خو داسې ښکاري لکه زمونږ د مشرانو روزي هم دغه جرګو پورې تړلې وي، ما ته خو داسې مشري که را پاتې شوه نو نۀ کيږي"(13). (هم دغه مکالمه دهغه وخت ښه انعکاس کوي، تاريخي حقيقت هم دا دى چې څه وخت جرګې له اولسي څخه سرکاري شوې او د ايف سي آر تور قانون راوتبل شو نو دهغه د بلې کولو لپاره نوي ملکان په پښتنو کښې و روزل شول .... بر کت شاه کاکړ)

دغو څو فني کمزوريانو نه علاوه د ناولټ د فني جوړښت په حقله د ځينو فني توکو ستائنه هم بايد وشي چې په کښې د کردار نګارۍ نه

عــلاوه ســســپېنس او تلوســه ډېــر اهــم تــوکی دی ســســپېنس او تلوســه د افســانوي ادب يــو داســې فنــي عنصــر دی چــې د نــاول نــه عــلاوه پــه ډرامــه او افســانه کښــې هــم بنيــادي حېثيــت لــري، هــم دغــه ســسپېنس او تلوســه پــه نــاول، افســانه او ډرامــه کښــې دلچســپي او زړۀ راښــکون پيــدا کــوي او د لوســتونکو توجــه ځــان تــه را کــاږي، د اردو نــامور دانشــور ډاکټـر عبدالحق حســرت کاســکنجوي دغــه ســسپېنس د دلچســپي پــه نــوم يــادوي او پــه افســانوي ادب کښــې ئــې د ټولــو نــه زيــات د نــاول دپــاره ضــروري ګڼــي او پــه حقه دغه دلچسپي د ناول د ټولو نه اهم فني عنصر ګڼي او ليکي:

"ناول کا سب سے اہم عنصر اس کی دلچسپی ہے، مختلف واقعات ایک خاص مگر دلچسپ ترتیب کے ساتھ سامنے آتے ہیں، کچھ واقعات مختلف کرداروں کے ساتھ بیان ہوتے ہیں اور ان واقعات کا رد عمل کے طور پر دوسرے واقعات کا اظہار ہوتا ہے اور یوں قصہ آگے بڑھتا چلا جاتا ہے، ناول انسانی زندگی کے پیچ و خم کی متحرک لفظی تصویر ہے، انسانی فطرت کے مطابق اس کے واقعات کا اظہار ہوتا ہے، انسانی زندگی اس کا ماحول انسانی جذبے، فلسفہ حیات اور ادراک و بصیرت محبت و نفرت، عمل ورد عمل کے اعتبار سے ناول زندگی کی دیگر اقدار کی طرح تبدیل ہوتا ہے(14).

د پورتــه ذکــر شــوي نقــاد د رائــې تــر مخــه پــه نــاول کښــې دغــه دلچســپي ســسپېنس او تلوســه يــو داســې فنــي تــوکی دی چــې د نــاول نــورو فنــي توکــو تــه هــم تقويــت ورکــوي ځکــه چــې دلچســپي او تلوســه د واقعــاتو پېښــو کولــو د سـليقې او انـداز نـه زېـږي او هـم دغـه واقعـات دي چـې پـه نـاول کښـې د پـلاټ رغاونــه هــم کــوي، دغــه شــان دلچســپي او تلوســه د نــاول د مختلفــو کردارونــو د حرکـت نـه وجـود مـومي او پـه نـاول کښـې کـردار نګـاري پـه خپلـه يـو بنيـادي فنــي تــوکی دی دې نــه عــلاوه پــه نــاول کښــې دلچســپي، تلوســه او ســسپېنس د نــاول، تهــيم، مقصــد ، موضــوع او پــه مجمــوعي توګــه قيصــې تــه يــو مضـبوط بنيـاد ورکـوي او دغـه تـوکي پـه خپلـه د نـاول د فنـي جوړښـت دپـاره اساســي حېثيــت لــري ځکــه مــونږ چــې د طــاهر اپرېــدي د "کــاڼو کښــې رګونــه" تحقيقــي او تنقيــدي مطالعــه کــوو نــو د کــردار نګــارۍ ســره ســره پــه کښــې د دلچســپي، ســسپېنس او تلوســې لټــون هــم کــوو او پــه دغــه لټــون کښــې مــونږ تــه انــدازه وشــي چــې طــاهر اپرېــدی پــه دې نــاول کښــې د اعلــی کــردار نګــارۍ ســره ســره د مختلفــو واقعــاتو د تــړون او جوړښــت نــه چــې د کــوم پــلاټ رغاونــه کـړې ده نـو پـه داسـې ترتيـب يـې کـړې ده چـې پـه نـاول کښـې ئـې دلچسـپي،

سسپېنس او تلوسه هم پيدا کړې ده او د مفهوم او مقصد ابلاغ يې هم کړی دی، دې لړ کښې د حنيف خليل دا تجزيه درسته ده چې ليکلي يې دي چې:

"ناول کښې په قدم قدم تصادم موجود دی او د ناول اهميت لاسيوا کوي، د همدغه تصادم د نس نه او واقعاتو بدلون او حرکت نه ناول کښې سسپېنس، (تلوسه) پيدا شوی دی، او په دغه سسپېنس برقرار ساتلو کښې طاهر اپرېدی دومره کامياب شوی دی چې د ناول يوه يوه فقره لوستونکی ځان ته نور هم را کاږي.

د ملك حنان او ملك تراب ګل مرګ سره داسې ښکاري چې د ناول قيصه سر ته ورسېده خو د سسپېنس د غوښتنې تر مخه دغه ځای نه يوه نوې قيصه سر ښکاره کړي او همدغه د ناول نګار د سسپېنس پيدا کولو سليقه هم ده او مهارت هم"(15).

د واقعاتو تصادم چې د ناول يو اهم فني توکی دی په دې لړ کښې ډاکټر حنيف خليل وړاندې ليکي:

"دې ناول کښې که يو خوا د دوو قبائيلي فريقو تر مينځه د نظريو او رواياتو تصادم ښودلی شوی دی نو بل خوا ورسره د قبائيلي ضد، انا او روايت پرستۍ سره د علم فکري جدت او روښانتيا تصادم را مخې ته کړی شوی دی خو د ناول لوی تصادم د قبائيلي رواياتو او رښتونې مينې تر مينځه دی"(16).

دلته چې د کوم تصادم خبره شوې ده هغه هسې هم په مجموعي توګه د ناول فني غوښتنه ده ځکه چې په افسانوي ادب (ناول، ډرامه، افسانه) کښې تصادم يو بنيادي فني توکی دی، د همدغه تصادم په ذريعه واقعات او قصه مخ په وړاندې ځي او خپل منطقي انجام ته رسي، تر څو چې د دغه ذکر شوي تصادم خبره ده نو د طاهر صاحب د دې ناول بنياد هم په دغه تصادم ولاړ دی چې په کښې د دوو نمائنده نسلونو نظرياتي او فکري تصادم ته اشاره شوې ده، زوړ روايت پرست نسل د خپلو قبائيلي رواياتو په نتيجه کښې د روايت پرستۍ ملګرتيا کوي او د روشن فکرۍ مخالفت کوي او نوی نسل د روايت پرستۍ او روشن خيالۍ نه سر غړونه

کول غواړي او په ټولنه کښې د جدت، تعليم او روښن خيالۍ د فضا ملګرتيا کول غواړي، دغه فکري تصادم دی چې د ناول قيصه منطقي انجام ته رسوي او د ناول نګار بنيادي تهيم را مخې ته کوي.

ښاغلی اصف فرخي د دې ناول مجموعي اهميت په لنډو ټکو کښې څرګند کړی دی خو هغهٔ د ناول د فني او فکري جائزې ضرورت نهٔ دی محسوس کړی، مونږ ته د دې ناول د اهميت، ضرورت او مقام اندازه د ناول د تحقيقي او تنقيدي کتنې نه ډېره په اسانه کېدای شي. خو دلته د اصف فرخي رائې پېښن کول ځکه ضروري ګڼم چې هغهٔ د دې ناول قبائيلي فضا نهٔ يوازې د ټولو پښتنو نمائنده ګڼلې ده، بلکې د ټول ملک د ټولنيز ژوند محيط ئې ياده کړې ده، هغهٔ ليکلي دي چې:

"طاہر افریدی نے ابتدا ہی میں صراحت کر دی ہے کہ انہوں نے قبائلی علاقے کی عکاسی کرنے کی کوشش کی ہے، لیکن یہ قبائلی علاقہ شاید پورے ملک پر محیط ہو گیا ہے اور اس کے رسم و رواج اور ضائطہ قانون یاCode of conduct کو ہم دور تک پھیلتے بڑھتے ہوئے دیکھ رہے ہیں، پاکستانی معاشرے میں کار فرما ان اہم سماجی مظاہر کو سمجھنے کے لئے.... بلکہ انسانی تجربے کے طور پر جاننے اور محسوس کرنے کے لئے یہ ناول مدد و معاون ثابت ہو سکتا ہے، لیکن اس کی اہمیت محض ایک سماجی دستاویز کی سی نہیں، یہ محبت کی دلکش کہانی ہے جو دل کے تاروں کو چھو لیتی ہے اور جب un-fold ہوتی ہے تو اس سے سماجی تغیر کی کتنی ہی انسانی جہتیں نمایاں ہو جاتی ہیں، یہی اس ناول کی اصل کامیابی ہے"(17).

د ښاغلي اصف فرخي خبره په خپل ځای درسته ده خو زهٔ دې ناول او د ناول تهيم او موضوع ته د ملک نه زيات په وسيع تناظر کښې ګورم او د دې ناول موضوع په اوسني دور کښې د بين الاقوامي او عالمي مسئلو نمائنده ګڼم ځکه چې د پښتنو قبائلي سيمې او د پښتنو قبائيلو مسئلو اوس صرف د قبائيلو، پښتنو يا پاکستان مسئلې نهٔ دي پاتې بلکې اوس دا مسئلې د نړيوالو بحثونو موضوع ګرځېدلې ده او بيا د "کاڼو کښې رګونه" موضوع ته چې خصوصي توجه وکړو نو د نائن اليون د واقعې نه پس خو د دې موضوع اهميت نور هم زيات شوی دی ځکه چې د نائن اليون د واقعې نه پس چې د پښتنو په سيمه کښې د اړې کړې، دهشت او وېرې، شر او فساد، بې امنۍ او بد حالۍ کومه نقشه زمونږ په وړاندې ده، په داسې حال کښې خو د طاهر اپريدي غوندې ليکونکو ضرورت لا

زيات محسوسيږي چې د ناول په ژبه په قبائلي اولس او پښتنو کښې د تعليم او روشن فکرۍ پيغام عام کړي، د مينې، ورورولئ، امن او خوشحالۍ درس ورکړي، د کرکې او نفرت نه ئې زړۀ تور کړي، د شر او فساد نه يې لاس ونيسي او د يو سوکاله ټولنې جوړښت ته ئې اماده کړي، په کوم کښې چې انسان د انسان د وينې تږی نۀ وي بلکې انسان د انسان د مينې پامته دار وي. د طاهر صاحب ناول هم دغه انساني پيغام وړاندې کوي او د ناول په فني چوکاټ کښې يې دننه وړاندې کوي چې زما په خيال د طاهر صاحب د نورو سترو ادبي کارنامو نه علاوه ئې دا هم يوه داسې کارنامه ده چې د هغۀ نوم به د پښتو په ادبي تاريخ کښې هميشه ياد ساتي.

***

# حوالې

(1) خلیـل، حنیـف، پښـتو نـاول تحقیقـي او تنقیـدي جـائزه، بـاګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، جنوري 2000ء، مخ108.
(2) خلیـل، حنیـف، سـریزه مشـموله کـاڼو کښـې رګونـه (د طـاهر اپرېـدي ناول) جرس ادبي جرګه کراچی، جنوري 2000ء، مخ 12.
(3) هم دغه، مخ 22.
(4) اختر، سلیم، ڈاکٹر، داستان اور ناول کا تنقیدی مطالعہ، سنگ میل پبلی کیشنز لاہور، 1991ء، ص129،130.
(5) اپرېدی، طاهر، کاڼو کښې رګونه، مخ23.
(6) هم دغه، مخ12، 13.
(7) هم دغه، مخ14، 15.
(8) منگل، اسیر، عرض مترجم، مشمولہ کہساروں کے یہ لوگ، شہراز کراچی، 2004ء، ص20.
(9) خلیل، حنیف، سریزه، کاڼو کښې رګونه، مخ 15، 16
(10) اپرېدی، طاهر، کاڼو کښې رګونه، مخ185، 186
(11) منگل، اسیر، عرض مترجم، کہساروں کے یہ لوگ، ص21،22.
(12) اپرېدی، طاهر، کاڼو کښې رګونه، مخ43.
(13) هم دغه، مخ56.
(14) حسرت، کاسگنجوی، ڈاکٹر، جدید ناول کے انقلابی اوراق، مشمولہ خیابان، (اصناف نثر نمبر) شعبہ اردو پشاور یونیورسٹی، 95- 1996ء، ص10.
(15) خلیل، حنیف، سریزه مشموله کاڼو کښې رګونه، مخ17، 18.
(16) هم دغه، مخ16.
(17) فرخی، آصف، اختتامیہ، مشمولہ کہساروں کے یہ لوگ، ص167.